# يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلَاثَ عُقَدٍ يَضْرِبُ كُلَّ عُقْدَةٍ عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ، فَارْقُدْ

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلَاثَ عُقَدٍ يَضْرِبُ كُلَّ عُقْدَةٍ عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ، فَارْقُدْ، فَإِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللَّهَ، انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ صَلَّى انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَأَصْبَحَ نَشِيطًا طَيِّبَ النَّفْسِ، وَإِلَّا أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ كَسْلَانَ». «کله چې ستاسو څخه يو څوک ویده شي نو شيطان يې د سر شاته برخې ته درې غوټې ورکړي او له هرې غوټي سره ورته وايې چې مخې ته دې لويه شپه ده نو ویده شه، که چېرته راويښ شو او الله تعالی يې ياد کړ، نو يوه غوټه يې خلاصه شي، او که اودس يې وکړ (بله) غوټه يې خلاصه شي او که چېرته يې لمونځ وکړ بله غوټه يې خلاصه شي، نفس يې پاکيزه او تازه شي، که نه نو په داسې حال کې به پرې سبا شي چې تمبل او مردار نفس لرونکی به وي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د شيطان حالت او د هغه چا سره د مبارزې په اړه خبر ورکوي چې غواړي د شپې يا سهار لمانځه لپاره پاڅېږي. نو مؤمن انسان چې کله ویده شي، شيطان يې څټ يعنې: د سر شاته برخې ته درې غوټې ورکړي. کله چې مؤمن له خوبه راويښ شي او د الله جل جلاله ذکر وکړي او د شيطان وسوسې ونه مني؛ نو يوه غوټه خلاصه شي. او کله چې اودس وکړي دويمه خلاصه شي. او که پاڅېده لمونځ يې وکړ دريمه غوټه هم خلاصه شي، نو تازه او پاکيزه راپاڅيږي، او خوشحاله وي پدې چې الله تعالی د بندګۍ توفيق ورکړ، او پدې چې الله تعالی ورسره د اجر او بخښنې ژمنه کړې ده، سربېره پر دې د شيطان له غوټو او تړلو يې هم خلاص کړ، که نه نو مردار به پروت وی، زړه به يې خفه و او د خير او نيکۍ په کارونو کې به سست وی؛ ځکه چې د شيطان په زنځيرونو تړلی او د رحمن ذات له نږدې کيدو به لرې وی.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee